NGO WORKING GROUP ON WOMEN, PEACE AND SECURITY
WORKING GROUP ON WOMEN, PEACE AND SECURITY
20+ YEARS OF ADVOCACY

**NGO WORKING GROUP ON WOMEN, PEACE AND SECURITY**
**A Project of Tides Center**
777 United Nations Plaza, New York, New York 10017
(+1) 212.557.7298
www.womenpeacesecurity.org

**د وینا سره دي پرتله شی**

**د میرمن زهرا نادر وینا**
**د ښځو، سولې، او منیت په اړه د امنیت شورا پرانستی بحث**
**د اکتوبر ۲۰ کال ۲۰۲۲**

ریس صاحب، محترمینو او د مدني ټولني همکارانو

زما نوم زهرا نادر ده. زه د زن ټایمز مسول مدیره یم. زن ټایمز د ښځو د اداري لاندې داسي یوه رسنۍ ده چي په افغانستان کي د بشري حقونو د سرغړونو راپورنه خپروي او ډیری تمرکز یې په ښځو، بیلخوښنو[۱] او چاپیریال په اړه مسایلو دی.

زه د مسولیت او افتخار په احساسولو غواړم چې نن د افغان میرمنو او انجونو ناوړه حالت له تاسو سره شریک کړم. زه دلته راغلی یم ځکه چي ما دلته د راتګ وس لرم. اما لازم ګنم ترڅو تاسو د ډول ډول افغانی میرمنو غږ هم په مستقیمه توګه واورې، پشمول د هغه میرمنو چي تر اوسه هم د طالبان تر ولکي لاندې ژوند کوی او د ځانی خطر په قبولو سره خپل غږ پورته کوي.

یوازې یو څو اونی وړاندي د کاج خانمرګي برید لږ تر لږ ۵۵ کسان ووژل، چي په هغوی کي ۵۱ هزاره انجونی او ښځي شامل وی او ۱۲۴ نور یې ټپیان کړل. د هزاره میرمني په حیث، دا برید ماته پدې خاطر لا دردوونکي دی چي دا برید زما په خلکو او هم د انجونو په تعلیم شوي. هغه هزاره انجوني ددې لپاره سره راټولی شوي وې چي د کانکور امتحان ورکړي ترڅو پوهنتون ته لار وموندي او د ژونالیزم، طب، او انجنیری مسلک زده کړي. دوی د یوه داسي ژوند خوب لیدلي وو چي نن سبا تر بل هري زماني ناشونی ښکاري.

دا برید د طالبانو د واکمنی لاندې د ښځو او انجونو، د هزاره ټولني او نورو څنګـته‌شویو اقلیتونو په حقونو ښکاره تیری دی، چي همدا خبره زما د نننی وینا موضوع جوړي.

**د ښځو د حقونو وضعیت**

د مسلک خاوندان نړیوالي ټولني ته خبرداری ورکوي چي زما هیواد د ټولکوالي او جنسیتی اپارتاید (جنسیتی بیلوالي) ته ور ځوړ شوی.

نن هغه ۲۰ میلیونه ښځي او انجوني چي کولای یې شوای په افغانستان کي مکتب او کار ته لاړي شي، هغه انجونوي چي پدې فکر لا لوی شوي چي هرځای یې زړه وغواړي تللی شي او هرڅه چي زړه یې غواړي ویلی شی، اوس د طالبانو تر ولکي لاندې دي او ددې بنسټیزو بشري حقونو څخه یوازې د خپل جنسیت په سبب بې برخي شوي. ښځو ته ویل شوي چي په کور کیني. انجونو ته د شپږم ټولګي څخه پورته د ښوونځي ته اجازه نشته. په ښځو او انجونو د محرم نه پرته په یوازې‌سر سفر کولو – حتی په ټیکسی کي- بندیز لګیدلی. د کور نارینه غړي چي د طالبانو دا نر-سالاره پالیسی نه عملي کوي، مجازات کیږي. طالبان ښځي د اخلاقي جرایمو په نامه بندیانوي. د طالبانو په راتګ سره د جبر او کمعمر ودونه نه یوازي پدې خاطر زیات شوي چي خلک تعلیم ته لاس رسی نلری او بی ساری غریبي کورنی دې ته اړ باسي چي خپلي لوراني وپلوري، بلکه د طالبانو غړي هم انجوني او ښځي د جبر واده ته اړ باسي.

یو حیرانونکي بیلګه یې د طب محصلي الاهه دلاورزی ده چي د یو لړ ویډیوګانو په خپرولو سره یې د مرستي لپاره سوال وکړ. ځکه چي د داخله وزارت پخواني ویاند لخوا پرې جنسي تیری شوي وو، وهل شوي، او په جبر نکاح کړل شوي. هغي په ویډیي پیغام کي غوښتنه وکړه چي "زما سره مرسته وکړی" او"ددې ویډیو له خپریدو وروسته ممکن تاسو بیا ما و نه وینی، کیدای شی زه

---

[۱]. هغه خلک چي د جنسیت په برخه کي یې خوښي له اکثریت وګړو بدلې وي. د مثال په ډول د خپل جنس خلک خوښوي او یا غواړي خپل جنسیت بدل کړي او یا د مخالف جنس جامی واغوندي.

قتل کړل شم“ معلوم نده چي الاهه اوس چیرته ده. په همدې ډول نوري افغان میرمني هم لادرکه شوي – یو کال کیږی چي د بندي خاني ریسه عالیه عزیز لادرکه شوي.

هره ورځ نوي تیري ترسره کیږي. حقیقت دا دې چي موږ خبر نه یو – او کیدای شي هیڅ وخت هم ددې تیریو په وسعت خبر نشو – ځکه چي د ملګرو ملتونو نظارت په ساحه کې کمزوری دی او افغاني میډیا، بالخصوص ښځینه ژونالیستان د طالبانو لخوا ځپل شوي او خارجی میډیا د هیواد څخه وتلي. او طالبانو هر هغه څوک چي ددوی مخالفت کوي ترهولي دي.

**د لاریون کونکو ښځو ځپل**

جوته ده چي ښځي د طالبانو اصلی هدف دي او تیر یوه کال کې موږ شاهد وو چي هرهغه څوک چي د طالبانو د نر-سالاره پالیسیو پر خلاف غږ پورته کړي، ځپل کیږي.

موږ د هغو خلکو سره انترویو وکړه چي د ۲۰۲۱ کال په سپتامبر میاشت کې یې په مزار کې د طالبانو پر ضد لاریون کړي وو، دوی موږ ته ډیري ځورونکي کیسی وکړي او دا چي څنګه په سوله ایز لاریون کې د برخه اخستو وروسته د طالبانو لخوا وهل شوي، اختطاف شوی، شکنجه شوی، او بندی کړل شوی ول، د مثال په ډول فروزان صافی – چي وروسته بیا ددوي کورنیو ته اجازه نه وه ورکړل شوي چي خپل غږ پورته کړي. په مزار شریف ښار کي د لادرکه کیدو څخه ځو وروسته د فروزان صافی شړیدلی جسد د تیر کال په اکتوبر کي وموندل شو. او یوي بلي ښځي، چي د لاریون کولو په خاطر یې ۱۱ ورځي د طالبانو په زندان کي تیری کړي وي، وویل چي هغه شاهد ده چي طالبانو به ددوی ماشومان وهل او ددوی په سر به یې ټوپک نیولو ترڅو ددوي په مورانو فشار واچوي او دا ښځي جبري اقرار ته اړ باسي.

ولي طالبانو د ښځو په چپ ساتلو کې تر دې حده عمل کوي؟

ځکه چي افغان میرمنو تر اوسه د طالبانو پر ضد د تر ټولو دوامداره او سوله ایز مخالفت په لاره اچولی. ښځي کوڅو ته راوتلي او د ”ډوډۍ، کار، آزادي“ شعار، چي زموږ اصلی غوښتني پکي نغښتي دي، یې ترسره کړی. هو موږ ډوډۍ ته اړتیا لرو اما یوازي بقا (پایښت) زموږ ضرورت ندې. موږ آزادي غواړو، په شمول د اقتصادي آزادي او د کار حق، موږ په ټولنه کي مساوي برخه غواړو، او غواړو چي د خپل ژوند واک په خپل لاس کي ولرو. او موږ په آزادي باندي ټینګار کوو، هغه حق چي د ژوندانه سبب ګرځی او د جوړجاړي ګنجایش نلري او د ملګري ملتونو په قانون کي د هر شخص لپاره تضمین شوي ده.

طالبان لاریون کونکو ښځو ته – په حقیقت کي هر افغان میرمن چي ددوی ځواب وایي - د دښمن په سترګه ګوري، ځکه دا ښځي د طالبانو په لاس د افغانانو ځورول په ډاګه کوي. د غږ په پورته کولو سره افغان میرمنی د طالبانو د زړه آرزو، چي د نړیوالی ټولني لخوا په رسمیت پیژندل دي، پر مخ خنډ ګرځي.

**د توکمیز او مذهبي ګروپونو او بیلخوښو حالت**

طالبان ګوښه‌کړل‌شوی ټولني په نښه کوي، د مثال په ډول مذهبی او توکمیز اقلیتونه او همدا شان بیلخوښي خلک، او ځیني ښځي یې د لا خطر سره مخامخ کړي.

هزاره ګان، هغه خلک چي له یوې پیړي راهیسي د خپل توکمیز او مذهبی هویت په خاطر ناوړي زغملي، نن د یوه سیستماتیک برید لاندي دي او د نظر خاوندان د دوی د نسل وژني خبرداری ورکوي. له کومه راهیسي چي طالبانو واک ترلاسه کړی، داعش خراسان ډلي لږ تر لږه ۸۷۹ هزاره ګان وژلی او ټپیان کړي. د هزاره توکم غړي د دنیا په نورو هیوادونو کي خوځښت شروع کړي او د چټک ګام اخستلو خوښتنه کوي.

او د پنجشیر، بلخاب یا هر هغه ځای څخه چیرته چي طالبان د وسلوال مقاومت سره مخامخ دي د جنګي جرایمو زړه بوښنونکي راپورونه ترلاسه کیږی. په بشري حقونو، په تیره بیا د ښځو او انجونو په حقونو، باندی د طالبانو تعرض او وروسره دا چي طالبان نشي کولای ترڅو د خطر سره مخ وګړو ته امنیت او بنسټیز خدمات ورکړي، ددې ډول حملاتو اضرار لا ناوړي کوي. د طالبانو پښتانه رهبرانو او د اسلام څخه ددوی سخت دریزه اخستنه (برداشت) نه یوازی د شعیه مسلمانانو بلکه د نورو ټولو هغو ډلو چي د هیواد په برخلیک ټاکولو کي دخیل ندي، لکه د صوفیان، احمدیان، هندوان، او سیکان حقوق تر پښو لاندي کړي دي.

بیلخوښي خلک چي د خپل جنسي میلان په سبب نه یوازي په افغانی جامعه کي د تعصب او ځور سره مخامخ دي، بلکه اوس د طالب غړو د برید، وژني، او جنسي آزار سره هم مخامخ دي.د افغانی بیلخوښو یوې ډلي موږ ته ویلي چي طالبان ددوي ته په کمین کي دي، چي دا کار د دوي موجوده له خطره ډک ژوند ته لا زیات ډار (ترهار) ور ګډوي.

**نړیواله ټولنه باید همدا اوس لاس په کار شی**

د د تیر کال اګست میاشت د بدلون راهیسی د امنیت شورا د افغانستان په هکله یولس ناستې درلودې، دوه بیانیې یې ورکړې او درې پریکړې یې کړې چې د ښځو د حقونو اهمیت یې پکې په ډاګه کړی.

اما، دې کړنو تراوسه په طالبانو باندې هغه لازم فشار ندې وارد کړی ترڅو دوی خپله کړنلاره بدله کړي. برعکس، د مارچ په میاشت کې یوناما ماموریت غزول ددې باعث شو ترڅو طالبان تر ټولو کرغیړنې پالیسی لکه د انجونې متوسطه ښوونځی د بندیز غزول، د نقاب لازمول، او محرم پرته د سفر اجازه نلرل، پلې کړي. داسې ښکاري چې ملګر ملتونه اوس نه پوهیږی چې راتلونکې ګام به یې څه وي، او داسې ښکاري چې د امنیت شورا ددې اراده نلري چې طالبانو ته جوته کړي چې د ښځو د حقونو تر پښولاندې کول د منلو وړ ندي.

کله چې د ښځو، سوله او امنیت خبره شي، د ملګري ملتونو په وینا او عمل کې لوی توپیر لیدل کیږي. او طالبانو د الفاظو(وینا) لپاره هیڅ درناوی نلري.

**وړاندیزونه**

دغه شورا (قونسل) په کافی اندازه شواهد لري چې طالبان ښځې او انجونی ترهوی (ډاروی)، او د افغانستان د ډول ډول مذهبی او توکمیزو اقلیتونه بی برخې کوی او تعصبی چلند ورسره کوي.

زما د ټولو افغاني خویندو په خاطر زه له تاسو غوښتنه کوم چې لاندې ګامونه اوچت کړي:

- پر طالبانو غږ وکړی چې د ټولو افغانانو په شمول د ښځو، انجونو، بیلخوښو او نورو ګوښه کړل شویو مذهبی او ټولنیزو ډلو بشري حقونو ته درناوي ولری؛ د ښځو پر وړاندې ټول محدودیتونه لرې کړي؛ د امربالعمروف وزارت لغوه او د افغانستان د بشری حقونو د څار سازمان دفتر فعاله کړي. په طالبانو غږ وکړی ترڅو د لاریون کونکو، د بشري حقونو ملاتړ کونکو، او ژورنالیستانو په نښه کولو او آزار ته د پای ټکی کیږدي. په لنډ ډول پر طالبانو غږ وکړي چې د بشري حقونو په هکله هغه واجیب ادا کړی کوم چې تاسو، د امنیت شورا، له یو کال راهیسي له طالبانو څخه غواړی.
- طالبان په رسمیت مه پیژنی، او دا کره کړی چې طالبان د بشری حقونو څخه د سرغړونو سزا وويني. د امنیت شورا د طالبانو په رهبرانو د سفر محدویت په برخه کې معافیت مه غزوي او د طالبانو نور غړي هم د سفر محدویت په لیست کې ور اضافه کړی. د طالبانو سرغړونې باید عادي و نه شمیرل شي او تاسو باید د ګام نه اخستلو حالت خپل نکړی.
- د ملګرو ملتونو په رهبرانو، په خاص ډول د ملګرو ملتونو عمومی منشی او د یوناما په نوي ټاکل شوي ریسي، غږ وکړي ترڅو په هرځای کې پر طالبانو فشار راړوي ترڅو د ښځو، انجونو او اقلیتونو حقونو ته درناوي وکړي. او یوناما ته مسولیت ورکړی ترڅو د خپل ماموریت سره سم پخپلو ټولو فعالیتونو کې د ښځو برابري او حقونو ته اولولیت ورکړي.
- د افغان میرمنو ټولنیز بنسټونو سره د فعاله ارتباط او ملاتړ ترسره کول نه یوازی د بشري حقونو دې فعالانو سره د یوالي ښکارندوینه ده، بلکه په افغانستان د ملګرو ملتونو د اساسي ماموریت د ادا کولو لپاره یو لازم ګام دي. د طالبانو سره د نړیوالې ټولنې تړاو باید د ښځو، مذهبي اقلیتونو، توکمیز اقیلیتونو او نورو ضعیفو ډلو په هکله اولیتونه او وړاندیزونه له ځان سره ولری. د افغانستان د راتلونکې په هکله د هر ډول تصمیم نیولو په برخه کې باید د افغان میرمنو مدني ټولنو ته پوره ونده ورکړل شي.
- د بشری حقونو د څار په پار باید یو اضافی جوړښت منځ ته راړول شي ترڅو د بشري حقونو د نقض اسناد وڅیړي.

د یوه ژورنالیست په حیث زه شاهدې ورکوم. او زه چې څه په ډاګه وینم هغه دا دي چې: طالبانو اوس هم د افغانستان ښځو او انجونو ته دایمي ضرر رسولي، او هره ورځ چې تاسو ګام نه اوچتوي دا ضرر لاپسې زیاتیږی.

د افغانستان خلک، په ځانګړي توګه ښځې، دا بحث څاري. همدا شان په نورو جنګ ځپلو هیوادنو کي ښځې دا بحث څاري. که تاسو په افغانستان کې پاتې راشی، د ایتوپیا، برما، سوډان، او یمن ښځې به پدې پوه شي چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پر وړاندې ښځې، سوله او امنیت د یوې تشې وعدې پرته بل هیڅ هم نده.

مننه